# د بادشاه سخا
# شوے مړے

پښتو




شیخ طریقت، امیر اھلسنّت، بانئ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

**محمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د بادشاه سخا شوے مړے

دُعائے عطّار یا **الله پاکه!** څوك چې دا رِساله ”**د بادشاه سخا شوے مړے**“ اُولَوَلي یا ئې وَاورِي د هغه ټول ګناهونه معاف کړې او هغه خپل مقبول بنده جوړ کړې او د هغهٔ بے حسابه بخښنه اوکړې. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

فرمانِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د قیامت په ورځ به په خلقو کښې د ټولو نه زیات ما ته نزدے هغه کس وي څوك چې په ما د ټولو نه زیات دُرُود شریف وائي- (ترمِذِی ج ۲ ص ۲۷ حدیث ۴۸۴)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## غِیبَت نیکۍ سیزي

آه! زمونږ د معاشرے بربادي! افسوس! افسوس! د **غِیبَت** کولو او اوریدلو عادت هر طرف ته تباهي راوستي ده- منقول دي: اور هُم وچ لرګي دومره زر نه سوَزَوِي څومره زر چې **غِیبَت** د بنده نیکۍ سوَزَوِي- (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج ۳ ص ۱۸۳)

## زما نیکۍ څه شوې

اے **عاشقانِ رَسُول!** د **غِیبَت** د تباهو نه یوه دا هُم ده چې د دې په وجه نیکۍ ضائع کیږي څنګه چې د **الله** په عطا د غیبو خبرونه ورکوونکے خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د قیامت په ورځ به انسان له د هغه کولاؤ اعمال نامه راوړلے شي، هغه به وائي: ما چې کومې فلانکۍ فلانکۍ نیکۍ کړې وې هغه څه شوې؟ [هغه ته به] اُووئیلے شي؟ تا چې کوم غِیبَتونه کړي

وو، د هغې په وجه وراني [يعني ختمي] کړے شوي دي- (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج۴ ص ۳۳۲ حديث ۳۰)

## د قيامت په ورځ به د يو يو لفظ تپوس کيږي

اے عاشقانِ رَسُول! آه! په ورځ د قيامت به د يو يو لفظ حساب کيږي- سوچ اوکړئ! په دې فاني دُنيا کښې د "د خوږ ژوند يو څو ورځې" پس به مونږه د تورو تيارو قبر ته کُوز کړے شو او بيا به د هغې په خوفناکه تنهائي کښې معلومه نه ده چې څومره موده اوسيږو- بيا به چې کله د محشر په ورځ د حساب کتاب د پاره حاضريږو نو خپل هر هر عمل به راته په اعمال نامه کښې ليکلے ښکاري، ځنګه چې په قرآنِ مجيد فُرقانِ حميد سيپاره 30 سُوْرَةُالزِّلزَال آيت نمبر 6 تا 8 کښې اِرشاد کيږي:

| | |
|---|---|
| يَوْمَىٕذٍ يَّصْدُرُ النَّاسُ اَشْتَاتًا ﵐ لِّيُرَوْا اَعْمَالَهُمْ ﴿۶﴾ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ﴿۷﴾ وَ مَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ﴿۸﴾ | [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِيمان: په هغه ورځ به خلق خپل رب طرف ته ګرځي په څو لارو [تقسيم شوي] چې خپل کړه ورلره اُوښودل شي. نو څوک چې د يوے ذرے هُمره نيکي اوکړي هغه به اُووِيني او که څوک د يوے ذرّے همره بدي اوکړي هغه به اُووِيني. |

آه! د اللهُ قَدِير پټ تدبير زمونږ په باره کښې څه دے، مونږ ته هيڅ معلومه نه ده چې آيا د الله رَبُّ الْعِزَّت په بارګاه کښې به زمونږ مغفرت کيږي يا (مَعَاذَالله) جهنَّم ته د تللو حُکم به راته کيږي، مونږ ته هيڅ معلومه نه ده. نَسْئَلُ الْعَافِيَةَ (يعني مونږ د عافِيَت يعني د خير سوال کوو)

ګر تُو ناراض هوا ميری ہلاکت ہوگی! ہائے ميں نارِ جہنّم ميں جلوں گا يارب
عفو کر اور سدا کے لئے راضی ہو جا ګر کرم کردے تو جنت ميں رہوں گا يارب

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

تُوبُوا اِلَی الله! اَسْتَغْفِرُ الله

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د چا غِيبَت چې اوکړے شي هغه په فائده کښې وي

چې کله تاسو ته خبر اوشي چې چا ستاسو **غِيبَت** کړے دے نو د غُصَّه کيدلو په ځائے د صبر او تَحَمُّل نه کار اخلئ او هسې هُم نقصان د هغه کيږي چا چې **غِيبَت** کړے وي، او د چا چې **غِيبَت** شوے وي هغه خو په فائده کښې وي، چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو اُمامه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: بنده ته به چې کله د قيامت په ورځ د هغه اعمال نامه ورکړے شي نو هغه به په هغې کښې داسې نيکئ اُووِيني چې هغه به نه وي کړي، عرض به کوي: اے زما رَبِّ کريم! دا زما د پاره د کوم ځائے نه راغلې؟ اُو به وئيلے شي: دا هغه نيکئ دي کوم چې خلقو ستا **غِيبَت** کړے وو- (تَنبِيهُ المُغترين ص ۱۹۲)

## زما مور زما د نيکو زياته حقداره ده

د **حضرتِ** سَيِّدُنا **عبدُالله** بِن مبارک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مخکښې چا د **غِيبَت** تذکِره اوکړله نو هغوئي اُوفرمائيل: که ما د چا **غِيبَت** صحيح گنړلے نو ما به د خپلې مور **غِيبَت** کولے ځکه چې زما د نيکو د ټولو نه زياته حقداره هُم هغه ده- (منهاجُ العَابِدِين ص ۶۵)

## د مور پوره حقونه نه شي ادا کيدلے

**اے عاشقانِ رَسُول!** عبرت حاصلولو د پاره په دې حِکايَت کښې ډير مَدَني گُلونه دي، لکه هغوئي فرمائي: ولې چې نيکئ بے بها دي [يعني قيمت ئې نشته] او د مور د حقونو نه خلاصيدل هُم ممکن نه دي، لِهذا که چرې نيکئ ضرور چا له ورکول وي نو انسان ئې خپلې مور له ولې نه ورکوي! د دې حِکايَت نه د مور د اَهَمِّيَّت اندازه هُم کيدے شي- بهرحال په **غِيبَت** کښې هيڅ خير نشته په دې کښې صرف رُسوائي او رُسوائي ده-

اے پیارے خُدا از پئے سُلطانِ مدینہ غِیبت کی نحوست سے میری جان چُھڑا دے

## نِیم ګناهونه مُعاف

حضرتِ سَیِّدُنا عطا خُراساني رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: که څوک ستاسو **غِیبَت** اوکړي نو مه پريشانه کيږئ، [ځکه چې] **غِیبَت** کوونکے په ناپوهئ کښې تاسو سره ښيګړه کوي! مونږ ته دا خبره را رسيدلي ده چې د چا يو ځل **غِیبَت** اوکړے شي د هغه نيم ګناهونه معاف شي- (تَنبِيهُ المُغترين ص ١٩٤)

## د ټولې شپې عبادت او غِیبَت

يو ځل د حضرتِ سَيِّدُنا حاتِم اَصم رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه نه د **تَهَجُّد** لـمونځ پاتې شو زوجۂ **محترمه** رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡهَا ورته ننګ (يعني غيرت) ور واچولو- هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه اُوفرمائيل: تيره شپه څه کسان ټوله شپه په نفلونو کښې مصروف اوسيدلي دي او سحر هغوئي زما **غِیبَت** کړے دے نو د هغوئي د هغه شپې عبادت به په ورځ د قيامت زما په ميزانِ عمل (يعني د اعمال تَللو په تَله) کښې کيښودلے شي! (منهاجُ الْعَابِدِين ص ٦٦)

## د سلو کالو نفلي عبادت او يو غِیبَت

اے **عاشقانِ اَولِياء!** د بُزرګانِ دِين رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡهِم په فرامِينو کښې د حِکمت بيشميره مَدَنـي ګُلونه وي، په مذکُوره حِکايت کښې **غِیبَت** کوونکي په ډير ښه انداز پوهه کړے شوي دي چې هغوئي د غِيبَتونو کولو په وجه خپل عبادتونه نه ضائع کوي- د دې حکايت نه دا مَدَنـي ګُل هُم حاصل شو چې يو کس اګر چې ټوله شپه په عبادت کښې تيره کړي خو غِيبَتونه نه پريږدي نو د هغه عبادتونه او رِياضتونه به هغه خلقو ته ورکړے شي د چا غِيبَتونه او حَق تَلفئ ئې چې کړي دي! رښتيا خبره دا ده چې د سلو کالو نفلي عبادتونو په مقابله کښې صرف يو ځل **غِیبَت** کول زيات خطرناک دي ځکه چې که څوک په خپل ژوند کښې کله هُم نفلي عبادت اونکړي نو بيا هُم د

قیامت په ورځ په دې خبره هغه ملامته نه دے او په **غِيبَت** کښېي د **اللّٰهُ** رَبُّ الْعِزَّت نافرماني او د آخرت ثواب ضائع کول دي- د دُنیا د ټول دولت د لاسه تلل اګر چې په نفس باندې ډیر درونډ بوج دے خو په حقیقت کښې ډیر کم نقصان دے او د قیامت په ورځ که د چا د حَق تَلفئ په وجه هغه ته "یوه نیکي" ورکول پیښ شو قَسَم په خُدائے دا ډیر لوئ نقصان دے-

میزاں پہ سب کھڑے ہیں اعمال تُل رہے ہیں　　　　رکھ لو بھرم خدارا عطّاؔر قادِری کا

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۱۷۸)

## د چا د حاجَت پوره کولو او د بیمارئ د پوښتنې فضیلت

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د غِیبَت د بد عادت نه ځان خلاص کړئ، د خپلو نیکو حفاظت اوکړئ بلکه خپلې نیکئ ښې زیاتې کړئ، د نیکو زیاتولو مَکِّي مَدَني نُسخے اختیار کړئ او د **جَنَّتُ الْفِردَوس** حقدار جوړ شئ، **سُبْحٰنَ الله**! څومره خوش نصیبه دي هغه اِسلامي وروڼه او اسلامي خویندې چې خپلې ژبې د نیکئ په دعوت، د سُنَّتو ډک بیان او ذِکر و دُرُود کښې مشغولې ساتي- د مسلمان حاجت پوره کول د ثواب کار دے او بیمار یا پریشانه مسلمان ته تَسَلِّي ورکول هُم د ژبې عظیمُ الشَّان اِستعمال دے- چنانچه حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا او حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوایت دے، دواړه فرمائي: څوک چې د خپل یو مسلمان ورور حاجت پوره کولو د پاره ځي **الله** پاک په هغه باندې د پینځه اَویا زره فرښتو په ذریعه سورے کوي، هغه فرښتے د هغه د پاره دُعا کوي او هغه د فارِغه کیدو پورې په رحمت کښې غوپې وهي او چې کله هغه د دې کار نه فارغه شي نو **الله** پاک د هغه د پاره د یو حج او یوے عُمرے ثواب لیکي- او چا چې د مریض تپوس اوکړو **الله** پاک به په هغه باندې د پینځه اَویا زره فرښتو په ذریعه سورے کوي، او کور ته بیرته راتلو پورې به د هغه هر قدم اوچتولو باندې د هغه د پاره یوه نیکي لیکلے کیږي او د هغه هر قدم کیښودلو باندې به د هغه یوه یوه ګناه ورانه [یعني ختمه] کړے شي او یوه یوه درجه به ئې اوچته کړے شي، چې کله هغه مریض سره کښیني نو رَحمت به ئې پټ

کړي- (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط لِلطّبَرانی ج ۳ ص ۲۲۲ حدیث ۴۳۹۶)

## د جَنَّت دوه جوړې

چې کله د چا بچے بیمار شي، څوک بے روزګاره یا قرضدار شي، حادثه ئې اوشي، غل یا ډاکو ترینه مال اوتښتوي، په کاروبار کښې نقصان اوکړي، د کوم یو څیز د ورکیدلو په سبب بے قراره شي، غرض دا که په هره پریشانئ کښې ګرفتار شي د هغه د زړه خوشحالولو د پاره ژبه خوزول ډیر د ثواب کار دے، چنانچه د حضرتِ سَیِّدُنا جابِر رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې زمونږه شفیعِ محشر خوږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: ”څوک چې یو غم وهلي کس ته تَعزِیَّت اوکړي **الله** پاک به هغه ته د تقوىٰ لِباس اغوندي او درُوحونو په مینځ کښې به د هغه په رُوح رحمت فرمائي او څوک چې یو مصیبت وهلي ته تَعزِیَّت اوکړي **الله** پاک به هغه ته د جَنَّت د جوړو نه دوه داسې جوړے ور واغوندي چې د هغې قِیمت (توله) دُنیا هُم نه شي کیدے-“ (مُعْجَم اَوْسَط ج ٦ ص ٤٢٩ حدیث ٩٢٩٢)

یا خُدا صدقہ نبی کا بخش دے مجھ کو بے حساب　　　نزعِ قبر و حشر میں مجھ کو نہ دینا کچھ عذاب

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

تُوبُوْا اِلَی اللہ!　　　اَسْتَغْفِرُ اللہ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## غِیبَت اوریدل هُم حرام دي

د **الله** پاک خوږ خوږ آخري نبي مکّـي مَدَنـي، **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سندرې وئیلو او سندرې اوریدلو او **غِیبَت** کولو او **غِیبَت** اوریدلو او **چُغلي** کولو او **چُغلي** اوریدلو نه منع فرمائیلي دي- (اَلجامِعُ الصَّغِیر لِلسیوطي، ص ٥٦٠، حدیث ٩٤٣٨) حضرتِ عَلّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْه فرمائي: **غِیبَت** اوریدلو والا هُم د **غِیبَت** کوونکو نه یو وي- (فیض القدیر، ٣/٦١٢، تحت الحدیث: ٣٩٢٩)

## غیبت کښې د شریکیدلو هر انداز ګناه ده

په **غِیبَت** اوریدلو خوشحالیدل او دې ته په تَوَجُّه سره غوږ اېښودل او په شوق سره، آو، آو، څه؟، ښه، جې وغیره آوازونه ویستل هُم **غِیبَت** دے- د **غِیبَت** اوریدونکې د دې حرکت په وجه **غِیبَت** کوونکے نور زَړور شې او نور ډیر ډیر غیبت شروع کړې، هُم دغسې په **غِیبَت** اوریدلو خوشحالې او تَعَجُّب [حیرانتیا] ښکاره کول هُم ګناه ده مَثَلًا حیرانتیا سره داسې وئیل: اوهو! دا داسې سړے دے، ما خو دے ښه سړے ګڼړلو- په شوق سره غیبت اوریدلو، حیرانتیا ښکاره کولو، او د هغه خبرې ته د صحیح وئیلو په انداز کښې سر خوزَوَل وغیره د **غِیبَت** کوونکې د زَړَورتیا او حوصله افزائې ذریعه ده، بلکه په داسې موقع خاموشه پاتې کیدونکے به هُم په **غِیبَت** کښې شریک ګڼړلے کیږې- (اِحْیَاءُ الْعُلُوم ج ۳ ص ۱۸۰ ماخوذاً)

## د بادشاه سخا شوے مړے

یو ځل څه خلقو د حضرت میمون رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه په مخکښې په یو بادشاه پورې بد وئیل شروع کړل، هغوئې رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه خاموشئ سره اوریدل، بځپله ئې د هغه په باره کښې څه ښه یا بده خبره اونکړه- چې کله د شپې اُوده شو نو خوب ئې اولیدلو چې د هُم هغه بادشاه سخا بدبودار مړے د هغوئې رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه مخې ته پروت دے او یو سړے ورته وائې: "دا اوخوره!" هغوئې اوفرمائیل: زه دا ولې اوخورم؟ هغه جواب ورکړو: ځکه چې ستا په مخکښې د دې بادشاه غیبَت شوے وو. هغوئې اوفرمائیل: مګر ما خو د ده په باره کښې څه ښه یا بده خبره نه ده کړې! جواب ورکړے شو: خو ته د ده غیبَت اوریدلو باندې رضامند وے. (صفة الصفوة لابن جوزی، ج3، ص154 ملخصاً) حضرت حزم رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه فرمائې چې: حضرت میمون رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه به بځپله نه د چا غیبَت کولو او نه به ئې [بیا] په خپله موجودګئ کښې څوك غیبَت کولو ته پرېښودو، بلکه که چا به د غیبَت کولو کوشش کولو نو هغه به ئې منع کولو، که هغه به منع شو نو صحیح ګڼې هغوئې رَحْمَۃُ اللهِ عَلَيْه به د هغه ځائے نه پاڅیدلو.

(حلية الاولياء، ج3، ص127، رقم 3418)

## د سياسي تبصرو مجلسونه

**اے عاشقانِ رسول!** د دې حکايت نه معلومه شوه چې د سياسي مشرانو، د صاحبِ اقتدار او حکمران طبقے د غيبَت کولو اجازت هُم نشته. ډيره د افسوس خبره ده چې! نن صبا شايد که زمونږه يو مجلس داسې وي چې په هغې کښې به په يو سياسي ليډر يا وزير يا د قومي يا صوبائي اسمبلئ په يو ممبر پورې سپکې خبرې نه کيږي. کله په وزيرِ اعظم يا صدر باندې تنقيد کيږي، کله په وزيرِ اعلیٰ باندې کله په ګورنر باندې. د مختلفو خلقو مُتَعَلِّق د هغوئي نومونو اخستلو سره زوردار منفي بحث کيږي. ښے ډيرې خبرې ورپورې کيږي او په ډيرو بدو بدو نومونو يادېږي. په غور سره واورئ! **الله** پاك په سيپاره 26 سورةُ الْحُجُرات آيت نمبر 11 کښې ارشاد فرمائي: ﴿**وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ**﴾ مفهوم ترجمه کنزالايمان: او يو بل له بد نومونه مه ګرځئ.

## فرښتے پرې لعنت کوي

د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه چاپ شوي کتاب "آنسوؤں کا دريا" صفحه **246** تا **247** کښې دا حديثِ پاك ليك دے، د حضرت سعيد بِن عامِر رَضِيَ اللهُ عَنْه نه روايت دے چې نبـي آخِرُ الزَّمان صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې يو مسلمان د هغه د نوم نه علاوه په يو لفظ (يعني بد نوم) ياد کړو په هغه باندې فرښتے لعنت ليږي.

(الجامع الصغير للسيوطي، ص525، رقم 8666)

# د اخباري خبرونو ډېر بد حال دے

د اکثرو مستو بے باکو ځلمو په ټولګو او د بوډاګانو په ډېرو مجلسونو کښې د حکمرانانو او سیاسي لیډرانو په باره کښې د غیبتونو، تهمتونو، بدګمانو او عیبونو بیانولو هغه سپیره سلسله روانه شي چې اَلْاَمَان وَالْحَفِیْظ! بیا د ټولو نه غټ ظلم دا دے چې چا سره د هغې دلیل هم نه وي! شاید څوک اووائي چې ولې نه، مونږه په فلانکي اخبار کښې لوستلي وو، فرض کړئ که هغه اخبار د فلمي اداکارو د بےحیا اداګانو د تصویرانو نه ډك وي، د ګنده حرکتونو د شهوت راوستلو خبرونو نه ډك وي، یا په پټه د ګناه کوونکو د بے اجازتِ شرعي عیب بیانولو، د حکمرانانو، سیاست دانانو، او د مُعاشرے د هرې طبقے د مسلمانانو د ذلیله کولو، د تهمتونو او الزامونو لګولو، تر دې پورې چې د مړو شوو مسلمانانو د غیبتونو نه ډك وي، نو زما په خیال کښې که یو وَلِیُّ الله هم د غیبتونو او د نورو ګناهونو د خبرونو او د بے پرده زنانؤ د تصویرونو نه ډك داسې اخبار لوستلو کښې مشغول وي نو شاید چې هغه خپل ولایت بچ نه کړے شي! نو ګناهونو نه ډک یو اخبار کښې چاپ شوے د "عیبونو بیانولو او غیبتونو نه ډک خبر" څنګه دلیل جوړیدے شي! او که خبر رښتیا هم وو نو بیا هم بے د شرعي مصلَحَت نه د یو مسلمان د بدئ (چاپ کولو او) بیانولو او داسې د ګناهونو نه ډك خبر بے اجازتِ شرعي د لوستلو شریعت کله اجازت ورکړے دے! هُم دا خو اسلام عیب ښکاره کول او غیبت قرار کړے دے او په سختئ سره ئې د دې حوصله ماته کړې ده.

## د سپو په شان به يو بل ماتوي او شوكوي

بهرحال داسې صحبتونه مجلسونه پرېښودل ضروري دي په كومو كښې چې د ګناهونو نه ډك بحثونه كيږي، په حالاتِ حاضِره باندې پكښې فضول خبرې كيږي، د مسلمانانو عِزّتونه پكښې تباه كيږي او ډېر ډېر غيبتونه پكښې كيږي. د عاشِقانِ رَسُول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه په چاپ شوي كتاب ”آنسوؤں کا دریا“ صفحه **253** كښې دي: يو بُزرګ رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: چې كله ورځ د قيامت راشي نو د **الله** پاك نافرمانۍ كولو د پاره يو ځائے كښيناستلو والا او په ګناهونو كښې د يو بل مدد كولو والا به راجمع شي، بيا به هغوئي په زنګونانو اودريږي او په يو بل به د سپو په شان چكونه لګوي او يو بل به شوكوي، دا به هغه بدنصيبه وي كوم چې به بغير توبه د دُنيا نه رُخصت شوي وي. (بحر الدموع، ص185)

میں فالتو باتوں سے رہوں دور ہمیشہ　　چپ رہنے کا اللہ! سلیقہ تُو سکھادے

## دُعائے قُنُوت لوستلو والا دِ خپله وعده پوره كړي

اے عاشقانِ اعلٰی حضرت! د بدو صحبتونو نه بچ كيدل بے‌حده ضروري دي ګني آخرت مو تباه كيدے شي. اعلٰی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: شريعتِ مُطَهَّره په لَمَانځه كښې يو ذِكر هم داسې نه دے كيښودے چې په هغې كښې ”صرف په ژبه الفاظ“ ادا كړے شي او معنٰی ئې مراد نه وي. (فتاوٰی رضويه، ج29، ص567) نو تاسو ته د يادګيرنې د پاره عرض دے چې د وِترو په لَمَانځه كښې خو به تاسو دا دُعائے قنوت ضرور لولئ چې په هغې كښې دي: ”وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُك“ يعني (اے **الله**) مونږه جدا

کوو او پريږدو هغه څوک چې ستا نافرماني اوکړي" که د نن نه مخکښې درته معنٰی معلومه نه وه نو اوس خو درته معلومه شوه، لِهٰذا د خپل ربِّ کريم سره هره ورځ کولو والا په دې وعده باندې عمل اوکړئ او لمونځ نه اداکوونکو، کنزلو، بدګمانو، تهمتونو، غيبتونو، **چُغلئ** او قِسما قِسم نافرمانو کښې د اخته اوسيدونکو فاسقانو د ناستې او صحبتونو نه توبه اوکړئ. او قرآنِ کريم هم د داسې صحبتونو نه منع کوي، څنګه چې په سيپاره7، سوره اَنعام آيت نمبر68 کښې ارشاد دے: ﴿وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ﴿۶۸﴾﴾ **مفهوم ترجمه** کنزالايمان: او که چرته ستا نه شيطان هير کړي، چې درياد شي نو ظالمانو سره مه کښينه.

په تفسيراتِ احمديه کښې د دې آيتِ مبارَکه نه لاندې ليك دي: دلته د ظالمانو نه مُراد کافران، مُبتَدِعين يعنې ګمراه او بد دينه او فاسقان دي. (تفسيراتِ احمديه، ص388)

## د نيکئ دعوت ورکولو د پاره د فاسقانو خوا ته تلل جائز دي

کوم اسلامي ورور چې مُتَّقي او پرهيزګار وي، هغه د ياري دوستئ د پاره نه بلکه صرف د نيکئ د دعوت د حده پورې د نافرمانو او وران کارو خلقو سره کښيناستے شي، چنانچه په وومه سيپاره، سورةُ الانعام آيت نمبر 69 کښې **الله رَبِّ الْعِباد** ارشاد فرمائي:

وَ مَا عَلَى الَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَیْءٍ وَّ لٰكِنْ ذِكْرٰى لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۶۹﴾ (پ7، الانعام: 69)

مفهوم ترجمه کنزالايمان: او په پرهيزګارانو باندې د هغوئ د حساب نه هيڅ نشته دے، خو نصيحت کول، کيدے شي چې دوئ پرهيزګار شي.

صدر الافاضِل حضرت مولانا سيِّد نعيم الدِّين مُراد آبادي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په ”خزائنُ العِرفان“ کښې د دې آيتِ کريمه لاندې فرمائي: د دې آيت نه معلومه شوه چې د وعظ و نصيحت او حق ظاهرولو د پاره هغوئي سره کښيناستل جائز دي.

## د حَجَّاج بِن يُوسُف غِيبَت نه هم پرهيز

زمونږ بُزرګانِ دين عَلَيۡهِمُ الرَّحۡمَه به د غيبت په مُعامَله کښې د **اللّٰه** پاك نه دومره ويريدل چې د کومو خلقو د ظُلم و ستم قِصّے مشهورې دي د هغوئي به ئې هم بے اجازتِ شرعي تذکِره نه کوله څنګه چې حضرت علامه اسماعيل حَقِّي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه نقل کوي چې: د حضرت امام محمد ابنِ سيرين رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه په خدمت کښې عرض اوکړے شو: څه وجه ده چې تاسو کله هم د حَجَّاج بِن يُوسُف په باره کښې څه نه دي وئيلي! (يعنې هغه ته مو رد بد نه دي وئيلي هغوئي اوفرمائيل: زه (د **اللّٰه** پاك د پټ تدبير نه) ويريږم چې چرته داسې اُونشي چې **اللّٰه** پاك د قيامت په ورځ د توحيد په بَرَکت هغه پريږدي (ځکه چې هغه مسلمان خو وو لِهٰذا که د دې نِسبَت په وجه په خپل فضل و کرم هغه بے حسابه اوبخښي) او ما د هغه د غيبت کولو په وجه په عذاب کښې اخته کړي. (تفسير روح البيان ج9، ص90)

## د دريو عيبونو د سپيره والي عبرتناك حکايت

اے عاشقانِ رسول! **اللّٰه** بے نيازه دے، د هغه پټ تدبير د چا په باره کښې څه دے د دې چا ته علم نشته، که يو مسلمان هر څومره ډير ګنهګار وي خو د هغه په باره کښې مونږه دا نه شو وئيلے چې دا به ضرور دوزخ ته ځي، چې کله د **اللّٰه** تدبير غالب راشي نو غټ غټ خلق داسې نيسي چې اَلْاَمَان وَالْحَفِيۡظ. د **عاشِقانِ رَسُول** مدني تحريک دعوتِ اسلامي د **مَکۡتَبَةُالۡمَدِيۡنه** د

22 صفحو رساله ”د بدي خاتمے اسباب“ صفحه 6 کښې دي چې: په ”مِنهاجُ العابِدِين“ کښې دي چې، حضرتِ سَیِّدُنا فُضَیل بِن عِیاض رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه د خپل یو شاګرد د ځنکدن په وخت کښې تشریف راوړو او د هغه خوا ته کښېناستلو او سُورۂیٰس لوستل ئې شروع کړو. شاګرد ئې اووئیل: ”سورۂیٰس لوستل بند کړه.“ بیا هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه هغه ته د کَلِمے طَیبے تلقین[1] وکړو. هغه اووئیل: ”زه بالکل دا کَلِمه نه وایم، زه د دې نه بیزاره یم.“ بس د هُم دې الفاظو وئیلو نه پس هغه مړ شو. حضرتِ سَیِّدُنا فُضَیل رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه د خپل شاګرد په بده خاتمه کیدو سخت خفه شو. څلویښت ورځې ئې په خپل کور کښې ژړل. څلویښت ورځې پس هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه خوب اولیدو چې فرښتے هغه شاګرد په جهنَّم کښې راښکاږي. دوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه ترینه تپوس اوکړو چې: په څه سبب **اللہ** تعالیٰ ستا نه مَعرِفَت واخستو؟ زما په شاګردانو کښې خو ستا مقام ډیر اوچت وو! هغه جواب ورکړو: د درې عیبونو په سبب (۱) **چُغلي** (۲) حَسَد (۳) شراب څښل ځکه چې د یوے بیمارئ نه د شِفا حاصلولو په غَرَض به ما د طبیب په مشوره هر کال د شرابو یو ګِلاس څښلو. (منهاجُ الْعَابِدِین ص ۱۵۱، بتغیر قلیل)

## د ځنکدن په وخت کښې د کَلمه کفر وئیلو شرعي مسئله

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د اللّٰه تعالٰی د ویرې نه اُولړزیږئ! او په ویره ویره د خپل معبُودِ بَرحق د راضي کولو د پاره د هغه په بارګاه کښې سرونه ښکته کړئ. آه! د **چُغلئ**، حَسَد او د شرابو د څښلو په وجه د وَلِـیِّ کامِل شاګرد په کُفریه کَلِماتو وئیلو وئیلو کښې مړ شو. صَدرُ الشَّرِیعه، بَدرُ الطَّرِیقه حضرت مولانا مُفتي **محمد امجد علي** اعظمي رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه فرمائي: د مرګ په وخت کښې مَعَاذَاللّٰه که د چا د ژبې نه کَلِمهٔ کُفر اُووتله

[1] د چا چې ځنکدن وي هغه ته داسې وئیل نه دي پکار چه کَلِمه اُووایه بلکه د تَلقِین صحیح طریقه دا ده چه د ځنکدن والا خوا ته په اوچت آواز کلمه شریفه لوستل پکار دي چه هغه ته هُم وریاده شي.

نو د ڪُفر فتوٰی به نه ورکوو ځکه چې کیدے شي چې د مرګ د سختئ په وجه ئې عقل کار پریښودے وي او په بے هوشئ کښې ئې دا خَبره کړې وي. (بهارِشریعت ا/٨٠٩ حِصَّه٤، ص ١٥٨، دُرِّمُختارج ٣ ص٩٦)

## اکثر خطاګانې د ژبې نه کیږي

خوږو اومحترمو اسلامي وروڼو! واقعي غلطه چلیدونکي ژبه انسان ډیر پریشانه کوي. انسان په هُم دې ژبه کنزلې کوي، دروغ وائي، غیبتونه کوي، **چُغلي** کوي په دې وجه د ده آخرت خرابیدے شي. د دې ژبې د آفتونو نه د **الله** پناه! د مشهور صحابي حضرت عبدُ الله بِن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روایت دے چې خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: د انسان اکثر خطاګانې د هغه د ژبې نه کیږي.(معجم کبیرج10، ص197، حدیث: 10446)

## هره ورځ سحر ټول اندامونه ژبې ته در خواست کوي

د حضرت ابو سعید خُدري رَضِیَ اللهُ عَنْه نه روایت دے: چې کله انسان سحر کړي نو د هغه ټول اندامونه ژبې ته عاجزانه دا وائي: زمونږ په باره کښې د **الله** پاک نه اُویَریږه! ځکه چې مونږه ستا سره تړلي یُو، که ته سمه اوسیدلې نو مونږه به هُم سم پاتې شُو، که ته کږه شوې نو مونږ به هم کاږه شو. (ترمذیج4، ص183، حدیث:2415)

## څه چې په زړه کښې وي هُم هغه په ژبه راځي

مشهور مُفَسِّرِ قرآن حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مفتـی احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُاللهِ عَلَیۡه د دې حدیثِ پاك لاندې لیکي: په نفع و نقصان، راحت و سکون، تڪیلفونو او مصیبتونو کښې (اے ژبې!) مونږه ستا سره تړلي یُو، که ته خرابه شوې، نو په مونږ به هم آفت راشي او که ته

صحيح اوسيدلي نو زمونږ به عِزَّت کيږي. ياد ساتئ چې! ژبه د زړه ترجمانه ده، د دې ښه والے، بد والے د زړه د ښه والي او بد والي خبر ورکوي. (مرآة المناجيح، ج6، ص465)

## د ژبې د بے احتياطئ آفتونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! واقعي ژبه که کړه چليږي نو بعضې وخت فسادونه جوړوي، په دې ژبه که سړے خپلې بي بي ته طلاق اووائي نو (په ډيرو صورتونو کښې) طلاقِ مُغَلَّظه واقع کيږی، په هُم دې ژبه که څوک يو چا ته بد رد اووائي او هغه غُصَّه شو نو بعضې وخت خبره مرګ ژوبلې ته اورسي. په دې ژبه که څوک يو مسلمان بے اجازتِ شرعي اورټي او د هغه زړه خفه کړي نو يقيناً په دې کښې ګنهګاريدل او د دوزخ حقدار جوړيدل دي. د "طَبرانی شريف" په روايت کښې دي، د **الله** پاک د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عبرت نه ډك فرمان دے: چا چې (بے وجه شرعي) يو مسلمان ته تکليف ورکړو هغه ما ته تکليف راکړو او چا چې ما ته تکيلف راکړو هغه **الله** ته تکليف ورکړو. (معجم اوسط،ج2، ص386، حديث:3607)

## د هميشه رضامندي او ناراضي

د حضرت بِلال بِن حارث رَضِيَ اللهُ عَنْه نه روايت دے، د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: يو کس ښه خبره اوکړي د هغې د انتها نه نه وي خبر، د هغې په وجه د هغه د پاره د **الله** پاك رضا د هغه ورځې پورې اوليکلے شي چې کله به دې د هغه سره مخامخ کيږي. او يو سړے بده خبره اوکړي د هغې د انتها نه نه وي خبر، **الله** پاك د هغې په وجه خپله ناراضي د هغه ورځې پورې اوليکي چې کله به دې د هغه سره مخامخ کيږي. (ترمذی،ج4، ص143، حديث:2326)

## اوَّل سوچ کوه بيا وايه

مشهور مُفَسِّرِ قرآن حَكِيمُ الأُمَّت حضرت مفتـى احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: (بعضې وخت انسان) څه داسې بده خبره اوكړي چې د هغې په وجه ربّ كريم د هميشه د پاره ناراضه شي، انسان له پكار دي چې په ډير سوچ او فِكر خبره كوي. حضرت علقمه (رَضِیَ اللهُ عَنْه) به فرمائيل: ما د ډيرو خبرو نه د بِلال اِبنِ حارث رَضِیَ اللهُ عَنْه (ذكر كړے شوے) حديث منع كوي. (مرقات) يعنې زه څه وئيل غواړم چې دا حديث رامخې ته شي او زه (په دې ويره) خاموشه شم. (چې هسې نه څه داسې خبره مې د خُلې نه اوځي چې د هغې په وجه را نه الله كريم د هميشه د پاره ناراضه شي). (مرآةالمناجيح، ج6، ص462)

## قُفلِ مدينه لګولو كښې خير دے

اے **عاشقانِ رسول**! بے سوچه خبرې كول بے حده خطرناك دي او د **الله** پاک د هميشه هميشه ناراضه كيدو سبب جوړيدے شي. يقيناً په خپله ژبه قُفلِ مدينه لګولو [يعني د ګناه او فضولو خبرو نه كولو] كښې خير دے. د خاموشۍ عادت جوړولو د پاره څه نه څه خبرې د ليك په صورت كښې يا په اشاره كول ډيره فائده مند دي ځكه چې څوك زياتې خبرې كوي عام طور خطاګانې هم زياتې كوي. د خلقو رازونه هُم ښكاره كوي، او د هغه د پاره د غيبت، **چُغلۍ** او عيبونو لټولو په شان كارونو نه بچ كيدل هُم ډير ګران شي بلكه د بكواس [يعني غلطو خبرو كولو] عادت لرونكي انسان د خُلې نه **مَعَاذَالله** بعضې وخت كُفريه خبرې هم اُوځي.

## دزړه د سختئ انجام

اللّٰهُ رحمٰن دِ په مونږه رحم اوفرمائي او زمونږ ژبه دِ په قابو کښې اوساتي ځکه چې دا د ذِکرُ الله نه غافِله شي او فضول وينا کوي نو زړه هم سختوي. د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عبرت نه ډك فرمان دے: فُحش ګوئي [يعني بے حيا وينا کول] د زړه د سختئ نه دي او د زړه سختي په اور کښې ده- (ترمذی،ج3، ص406، حديث:2016 ملتقطا)

## د بکواس کولو عادت په کفر کښې اخته کولے شي

مشهور مُفَسِّرِ قرآن حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مفتـی احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: څوک چې هره بنه او بده خبره کوي نو پوهه شه چې د ده زړه سخت دے په ده کښې حيا نشته. سختي هغه وَنه ده د کومې جرړه چې د انسان په زړه کښې ده او د دې خاخ په دوزخ کښې دے. د داسې بے لګامه انسان انجام دا وي چې هغه د الله و رسول په بارګاه کښې هُم بے ادبه شي او کافِر شي. (مرآۃالمناجیح،ج6،ص641)

جی چاہتا ہے خوب گناہوں پہ روؤں    افسوس مگر دل کی قساوت نہیں جاتی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

تُوبُوا اِلَى الله!    اَسْتَغْفِرُ الله

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نيك او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کېدونکي د **دعوتِ إسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تېروئ ❁ د سُنّتو د تربِيَت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِكرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني إنعاماتو** رِساله ډكوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يكم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع كولو معمول جوړ كړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح كوشش كول دي.**" إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د كوشش كولو د پار "**مَدَني قافِلو**" كښې سفر كول دي. إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (كراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com